آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۳۱

# لارورکي لارويان

## يو ديرشمه برخه

## نا ليدلې، نا پيژندلې لارې

### د سلواک زندان:

په دې کور کې درې ورځې پاتې شوو. په څلورمه ورځ همغه کېږی موټر راغی، په کې سپاره شوو او حرکت.
قاچاقبران لکه غله هر کله خپل کارونه د شپې له خوا کوي. تياره او د خلکو ويده کيدل، د پوليسو او څارونکو لږوالی،
د قاچاقبرانو له پاره لوی چانس و چې خپل کارونه پرته له کومې ستونزې پر مخ بوزي؛ خو دا ځل يې سم دم لکه
دولتي مامورين د سهار په اتو بجو وخوځولو.
موټر په بې لارو او ورکولارو سر و چې څوک په مخه ور نه شي. د سلواک او چک له پولې د چک حريم ته ور
اوښتي وو. د بريد پر کرښه باندې څو واړه کلي و. موټر د کليو له تنګو سرکونو په آرامۍ سره تير شو.
د يوې تپې پر سر د ځنګله په منځ کې نرۍ خامه سرک و. زموږ ډريور هڅه کوله چې نور ځان عمومي واټ ته ور
برابر کړي، چې مخې ته يې يو بل موټر ودريد او زموږ د موټر لاره يې بنده کړه، په موټر کې يوازې يو پوليس
سپورو. موږ د خپل موټر د شکيدلي ترپال له سوريو کتل چې پوليس مخامخ راغی او زموږ د موټر له ډريور سره
يې څه و ويل او بيا راغي د موټر دروازه يې خلاصه کړه، پرته له څه ويلو يې ټول بې وزرو مسافر مرغان له نظره
تير کړل. موږ په خپل سرنوشت نه پوهيدو، پوليس بيرته دروازه را پورې کړه. موږ خدايه، خدايه کول چې که ډريور
لکه روسيه کې، دلته هم پوليس ته حق ورکړی وي، نو موږ به پرېږدي او په خپله مخه به ځو؛ مګر خبره کاملاً سر چپه وه.
زموږ له معاينې نه وروسته پوليس مخامخ ډريور ته ورغی، له موټر نه يې ښکته کړ، متې يې ور باندې واړولې،
اسناد او موبايل يې ور نه واخستل. په مخابره کې يې چا ته څه و ويل، شيبه وروسته نور موټراو نور پوليس را و رسيدل.
موږ سره د روسيې او اوکراين د پوليسو ويره وه، خو د دوی چلند او کړه وړه له هغو سره ډير توپير درلود. يو پوليس
زموږ د موټرخوا ته راغی، پرته له دې چې څه و وايي، د موټر په جلب کيناست، مخامخ يې سرحدي تانې ته بوتلو.
بې له کومې ګناه يا خطا تحقيق پيل شو، د ګوتو نښې واخستل شوې.
له ټولو نا خبرو مسافرو نه يې پوښتل:
له کومه راغلئ؟
نه پوهيږو.
چا راوستئ؟
نه پوهيږو.
په کومه لار راغلئ؟
نه پوهيږو.
د ټولو هماغه يوه خبره وه:
نه پوهيږو.
بې وزرو مسافر مرغان بس په دې پوهيدل چې له يوه دامه خلاص نه وي، بيا په بله لومه کې نښتي وي. لومې ټولې
هماغه لومې دي، يوازې نوم يې فرق کوي.
د پوښتنو په لړ کې پوه شو چې موږ د سلواک له خاورې نه د چک خاورې ته اوښتي وو او بيرته بايد د سلواک پوليسو
ته وسپارل شوو. دا عمليه په څو ساعتونو کې تر سره شوه .
سبا ته د سلواک پوليسو هم پر موږ خپله تباره تيزه کړه. هماغه خر، هماغه ور:
له کوم ځايه راغلي ياست؟
چا راوستئ؟
چيرې ځئ ؟
او...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښځې، ماشومان او د هغو خپلوان میره، ورور یا د کورنۍ بل ډول خوني اړیکې، دا یې د هغې شپې په سبا ټول خوشې کړل. نه تنه پاتې نارینه چې زه و فضل، جنرال شمس او ډګروال کبیر هم په کې وو، پرته له قاضي او پرته د محکمې له پریکړې زندان ته ولیږل شوو.
موږ په خپل برخلیک نه پوهېدو. په دې هم نه پوهیدو چې ولې زنداني کیږو او څومره موده به په جیل کې تیروو. بس همدومره یې پوه کړو چې ستاسو سزا زندان دی.
په یو میني بس موټر کې څو تنه پولیسان را سره سپاره شول. د پولیسو دري تعقیبي موټر را پسې وو. ما خپلو ملګرو ته و ویل چې دې خلکو لویه توره کړې ده، ښه جنګیالي او توریالي یې نیولي دي، اوس باید لوړ مقامات دوی ته مډالونه ورکړي.
دا وخت موټر له ښاره وتلی و او د شنو کروندو په منځ کې پر یوه غځېدلي سرک باندې روان و. موږ د خپلې تیارې راتلونکې په باب ځُرتونه وهل چې موټر د زندان مخې ته و درید.
د دیوالونو پر سر ازغن اوسپنیزسیمان، کلکې اوسپنیزې دروازې، شاو خوا پر جګو ځایونو باندې څارونکې کمرې او د یوه جیل نور اړین شیان تر سترګو کیدل.
ور بیرته شو او موټر د جیل انګړ ته ننوت. په همدې شیبه کې یوه ډله بندیان د تفریح له پاره د زندان انګړ ته را ایستل شوي وو. د بندیانو له ډلې نه یوه تن په لوړ آواز زموږ په آدرس غږ را وکړ او وې ویل:
«ستړي مه شئ، راځئ، څه خاصه خبره نه شته.»
موږ لا د بندیانو په ننداره وو چې ساتونکو کوټې ته د ننوتلو اشاره وکړه. پولیسو زموږ په اصطلاح دوسیې د زندان مسؤلینو ته وسپارلې او نور په خپله مخې پسې ولاړل.
هلته یې موږ په ګوډه ما ته انګلیسي او څه په اشارو پوه کړو چې کالي مو بدل کړئ. هر یو بندي ته یې یوه یوه لویه پلاستیکي خلطه او یو جوړه د زندان کالي ور کړل او وې ویل کالي او هرڅه چې در سره وي، په دې خلطو کې یې واچوئ.
ما سره چې د همدې کتاب لومړنی لیکل شوې څه د پاسه اتیا پاڼې وې، په خلطې کې مې وانه چولې او له ځان سره مې واخیستې. په دې کې د زندان د یو تن مسؤل را باندې پام شو. پوښتنه یې وکړه:
دا څه شی دي؟
دا څه کوې؟
ولې یې په خلطه کې نه اچوې؟
او...؟
بله چاره نه وه مجبور وم چې دروغ و وایم، نو په ډیر جنجال مې پوه کړ چې زه مسلمان یم او دا څو مقدسې مذهبي پاڼې دي او هره ورځ یې باید ولولم. هغه پرته له دې چې نور څه و وایي، پرېښودم او رانه روان شو.
فکر کوم چې له هغه سره د نورو خلکوعقایدو ته دومره احترام و چې ما ته یې څه و نه ویل او پاڼې یې را سره پرېښودې. د زندان د مسؤل دې چلند ما ته بیا افغانستان او زموږ په ټولنه باندې غیر اسلامي او غیرانساني حاکم کړای شوي حالات را په یاد کړ.
جګړه، زور زیاتی، وهل، ټکول، وژل، جنسي تیری، لوټ، غلا، تښتونه او یرغمل نیول د ټوپکیانو ورځنۍ دنده او عادت باندې بدل شوي وو. دوی هیڅ شي ته د تقدس په سترګو نه کتل. خدای، پیغمبر، قرآن،پیر، استاد، عقیده، اسلام او هر څه ته یې په سپکه سترګه کتل او دودیزو نرخونو ته سپکاوی د دوی ویاړمن کارونه وو. زموږ د همدغو نا مسلمانه ټوپکیانو مشران د نورو په آدرس د تکفیر احکام هم صادرول او اوس یې هم صادروي.
زه لا د خپل ذهن د محکمې په تله کې د هیوادنیو مسلمانانو او اروپایي کفارو د اعمالو په تللو بوخت وم، چې د زندان یو تن مسؤل مې پر اوږه لاس کیښود او را ته وې ویل:
په دې دروازه ننوزه!
بس څو شیبې وروسته، نه څه کړي، نه څه خوړلي، نه څه لیدلي او نه ګناه نه خطا، اوسپنیزو پنجرو کې بند شوو.
په ډیره آرامتیا د هر چا کوټه او کټ ور وښودل شول. په هره کوټه کې څلور تنه وو. کوټې، کټونه او بسترې ډیرې پاکې وې. د زندان ودانۍ درې پوړیزه وه. په لومړي پوړ کې پخلنځی، د ډوډۍ خوړلو صالون او څه نورې ګدام ډوله کوټې وې. په دویم او دریم پوړ کې د بندیانو کوټې وې. د ودانۍ په منځ کې تقریباً د سلومترو په اوږدوالي دهلیز غځېدلی و. د بندیانو د څارنې له پاره هرې خوا ته کمرې اېښودل شوې وې.
ټول خپلو کوټو ته ننوتل. یو بل ته مو ړنې، ړنې کتلې، لکه حالاتو چې ګونګیان کړي اوسو، هیڅ مو نه ویل. ټولو د تیارې راتلونکې په باب فکر کاوه. زه په آرامتیا څو شیبې په بستره کې اوږد وغځېدم او د ژوند ټولې ترخې، خوږې، سړې او تودې مې – لکه د مرګ په درشل کې چې یم – لکه بریښنا تر سترګو تیرې کړې.
فضل چې یو بې تجربې زلمی و، زما خوا ته راغی او په خواشینۍ سره یې را ته و ویل:
«چطور کنیم استاد؟»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه ورته له مازې موسکی شوم او د لاس په اشاره مې د ناستي ورته و ویل، بیا مې په دې ترخه واقعیت پوه کړ چې هغه څه چې زموږ له لاسه کیږي، کوو یې؛ خو اوس موږ لاس و پښې تړلي انسانان یو، له لاسه مو هیڅ هم نه کیږي. زموږ واک د نورو په لاس کې دی، دا پردی وطن دی، موږ په لاس کې هیڅ ډول لاسوند نه لرو، زموږ هر څه غیرقانوني دي، لکه ړندو غوندې روان یو، جلب مو د بل چا په لاس کې دی، لکه څاروي هرې خوا ته مو چې کش کوي، ور سره ځوبه. سمدلاسه په کار ده پته ولګوو چې څومره موده په دې زندان کې پاتې کیږو.

وروسته له څو شیبو زه دهلیز ته و وتم. د سل متره دهلیز په واټن کې مې ښکته پورته لوڅې پښې چکر واهه. لوڅې پښې ځکه چې د زندان څپلکې مې پښو کې تنګې او پښې مې یې خوږولې. نه پوهیږم چې په دهلیز کې به څو ځلې ښکته پور ته تللی راغلی وم، چې په دیوال پورې نښتې تختې ته مې پام شو. په تختې باندې په بیلابیلو ژبو، خبرتیا ته ورته څه لیکل شوي وو. ښه ور ته ځیر شوم، انګلیسي، روسي، عربي، کوردي او... پښتو خو نه وه په کې، خو په پای کې مې فارسي متن ته پام شو، له لوستلو یې پوه شوم چې هماغه یو مطلب په څو ژبو لیکل شوی دی.

د خبرتیا خلاصه دا وه:

«هغه څوک چې د سلواک حریم ته بې اسنادو او غیرقانوني ننوزي او پولیس یې ونیسي، په دې زندان کې به یوه میاشت تیروي.»

دا خبر مې خپلو ملګرو ته ورساوه، هغوی هم خوشحاله شول او وې ویل:

څه بلا ورپسې، یوه میاشت به خدای په خیر تیره کړي، ښه ده چې د زندان موده یو کال او دوه کاله نه ده.

په زندان کې هر څه ښه او پاک وو. د کارکوونکو او مسؤلینو چلند ډیر ښه او انساني و، د ټولو بندیانو له پاره لویه ستونزه دا وه چې ډوډۍ یې ډیره لږه ورکوله. درې وخته یې داسې ډوډۍ ور کوله چې بې اشتها سړی به هم نه ور باندې مړیده. د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به هر یوه د سترګو له کونجونو څخه بل تن ښاره چې که کومه مړۍ ور نه پاتې شي چې دی یې وخوري، خ وقابونه او کاسې به داسې پاکې وځټل شول لکه غوا چې خوسی وڅټي.

په ورځ کې یو وار یوازې د یوه ساعت له پاره بندیان د باندې آزادې هوا، د زندان انګړ ته ایستل کیدل. هلته به چا فوتبال کاوه، څوک د پښو پر سر پیتاوي ته ناست وو، توکي ټکالې به یې کولې، چا به د چُرتونو په لړ کې یوه نیمه اوښکه هم تویوله او ځینو به لکه تل خپله درنه او د نورو سپکه ویله.

زه لکه لیونی د زندان په انګړ کې ګرد ګرځیدم. ډیر ځلې به ځینو بندیانو ما ته کتل، نو به مې پام شو چې ځان سره غږیږم. زما تن به په سلواک کې لکه خوځنده مړی په زندان کې و، او زه به په خیالونو کې بې پاسپورته بې ویزې کله کابل ته رسیدلی وم او کله به مې ماسکو کې چکر واهه. کله به مې ځان بیا په ډنمارک کې احساساوه او په قانوني ډول به مې په ډنمارک کې چکر واهه.

ګرد ځکه ګرځیدم چې درویشت ساعته د پنجرې تر شا پرته له حرکت او ګرځیدا به پروت وم او بل دا چې ما ویل ګوندې لږ ستړی شم او د شپې خوب راشي.

له موږ نه مخکینیو بندي افغانانو چې موده را لنډه کړې وه، ډیرې خبرې به یې کولې. د شپې له خوا به چې د زندان نور مسؤلین لاړل، هر پوړته به یو نوکریوال پاتې شو. بیا به زموږ د دهلیز افغانان په یوه کوټه کې سره را ټول شول. سندرې ویل به یې پیل کړل، په میزونو به یې تبله وهله او غاړې به یې کولې. یوه شپه چې زموږ غږ جګ شوی و، د دهلیز نوکریوال راغی چې موږ غلي کړي، کله یې چې زموږ مستي او خندا ګانې ولیدلې، ورو کوټې ته را ننوت، یو څو شیبې یې زموږ ننداره وکړه او بیا یې په آرامه لهجه و ویل:

که سندرې بولئ، وې بولئ، خو لږ ورو، ورو او نور خپله هم موږ سره په چکچکو سر شو. ما ته د ملایانو او طالبانو(د ملا عمر طالبان نه یادوم) کیسه را یاده شوه. چیرې په کوم کلي کې واده و، غربنده ډولونه وهل کیدل او مستو زلمیانو څنې ورته اړولې. ملایانو طالبانو ته و ویل:

ورشئ دا خلک غلي کړئ چې اتڼ کول او ډول غږول ډیر اوبال لري.

طالبان ورغلل چې اتڼچیان غلي کړي، خو د ډولونو غږ او اتڼ دومره اغیز پرې وکړ چې اتڼ ته ور ګډ شول، پټکي یې وغورځول او څنې یې اړولې.

په جیل کې یو شمیر افغان او هندي هندوان هم موږ سره بندیان وو. دوی د خوب له یوې کوټې نه درمسال جوړ کړی و، سهار وختي ټول پرته له دې چې څوک په عذاب کړي، جګیدل به، هماغې کوټې ته تلل او خپل عبادت به یې کاوه، مګر مسلمانانو یوه هم پوښتنه و نه کړه چې قبله کوم لوري ته ده.

په هندوستاني هندوانو کې یو تن سک و. دی خپلو عقایدو باندې داسې ټینګ و چې تا به ویل چې په ټول عمر کې یې یو ویښته هم له وجود نه نه دی غوڅ شوی. دې بد مرغه ته چا ویلي وو چې که په زندان کې ځان په مریضۍ واچوې، نو سمدلاسه دې آزادوي. بس سړی له سیاف ډوله ږیرې او ببر سر سره، د زندان په دهلیز کې پړ مخې څملاست، چغې یې پیل کړې چې نس مې په درد دی او اپندکس یم.

چغو بغارو یې زندان په سر سره اخیستی و، چې د جیل مسؤلینو امبولانس را وغوښت او سړی یې روغتون ته ولیږداوه. دوه که درې ساعتونه تیرو، چې سړی یې بیرته راوست، که ګورو سړی چغې نه وهي، خو پټ، پټ ژاړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هلته په روغتون کې يې مخکې له دې چې ډاکتران په ليدلو او معاينې پيل وکړي، پرته له دې چې ډاکتران د مريض په مذهبي نزاکتونو پوه شي، امر يې کړی و چې مخکې له معاينې او يا عملياتو نه بايد د مريض سر او ږيره و رخيل شي. موږ چې له سک نه د ژړا د وجهې پوښتنه وکړه نو ورو يې و ويل:
کاشکې په ريښتيا زه اپندکس وای، خو چې زما ويښتان يې نه وای را نه لرې کړي، ډير خواشينی يم چې زما د يو عمرخواري او عبادت په اوبو لاهو شو.

د يو ديرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ